محمدسمیع صادق

۲۰۲۶/۰۲/۰۷

# د یتیمو شونډو قصه

## قصه په سلو ټکو کې

پس له عمرونو ئې زنګ وواهه. هماغه چې کلونه مخکې ئې پرېښی وم. ول:

«کېدای سي ووینو؟»

ما وویل:

«له ښاره لیري، هغه هېر سوي کلي ته راسه، زما و ستا زړې قهوه خانې ته.»

هغه له ما مخکې ناسته وه. له رسمي سلام وروسته، چوپتیا زموږ ترمنځ کښېناسته. هماغه پخوانۍ قهوه مو وغوښته. د هغې لاسونه د پیالې پورته کولو ته رپېدل. زما شونډو غوښتل ووایي:

«پاته سه،»

خو الفاظ مي یتیمان ول.

هغې غوښتل ووایي:

«نسم کولای!»

مګر هغې هم چوپتیا غوره کړه.

موږ پرېښود چي سکوت خبري بشپړي کړي. قهوه سړه سوه، لکه زموږ وروستی هیله.

محمدسمیع صادق



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولـئ